دهیڅ شهادت سمی سختیم
نابرم گوگ به شپه پیاسبرز تفویض ...

شهادت

(٤) صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شماره مسلسل (١٠٢٠) سال هژدهم شماره (١٠٦) يكشنبه (٢٨) عقرب ١٣٧٤ هـ ش (٢٦) جمادي الثاني ١٤١٦ هـ، ق (١٩) نومبر ١٩٩٥ م

مستيري اعضاي كميسيون انتقال قدرت را اعلان كرد

اسلام آباد - ٢٧ عقرب :
رباني موافقه نموده است تاقدرت را به يك كميسيون بيست وهشت عضوي متشكل ازنمايندگان همه احزاب بسپارد .
به اساس گزارش رسيده ازاسلام آباد مستيري فرستاده خاص سازمان ملل دريك كنفرانس خبري دراسلام آباد گفت : رباني به انتقال قدرت به يك شوراي بيست وهشت عضوي كه ازگروه هاي متعدد نماينده گي ميكند، موافقه كرده است .
به اساس گزارش منابع خبري مطابق به اين طرح مستيري تمام واحد هاي اداري افغانستان را به هفت حوزه تقسيم
ص(٤)

په كندهاركى دطالبانو مشرانو حاجى دين محمد اومحمد شاه «فضلى » ته ويلى :

مونږ مولوى "خالص" ته داقتدار له انتقال سره موافق يو خو په دى شرط چى مسعود ورته خپل ځواكونه وسپارى اوله كابل نه ووځى

له هيچاسره ائتلاف كولوته چمتو نه يو كه پردى نامه كومى خبرى شوى اويا معاهده لاسليك شوى، په عمل كى ورته اهميت نه وركوو

پيښور - دلرم ٢٧ مه :
يوي باوري منبع «شهادت » ته وويل كندهارته چي دحاجي دين محمد، مولوي محمدشاه «فضلي»، مولوي ارسلا «رحماني» اوعبدالستاره«صديقي» په گډون كوم هيئات تللي و، هغه دطالبانوله مشرانو سره په بيلابيلوموضوعاتو باندي اوږدي خبري كړي اوپه دي منځ كي ئي مولوي محمديونس « خالص » ته داقتداردانتقال مسئله هم ورسره مطرح كړي .
منبع څرگنده كړه چي په دي باره كي دطالبانومشرانوهيئات ته وويل چي «دطالبانو غورځنگ له دي سره موافق دي چي مولوي «خالص» ته قدرت انتقال شي خوپه دي شرط چي دقدرت دليږدمفهوم بواځي داستاذ « رباني » پرځاي دمولوي «خالص» تاكل نه وي ،بلكي احمدشاه «مسعود » خپل قوتونه هم ورته تسليم كړي اودي (مسعود) له كابل نه ووځي .
منبع زياته كړه چي طالبانو ټينگاركړي چي اصلي قدرت د«مسعود» په لاس كي دي اوترڅوچي هغه خپل قوتونه تسليم نكړي اونظامي حضوروللري په كابل كي به هريدلون شكلي وي او دقضيي په بحران كي به هيڅ توگه اغيزمن نشي واقع كيداي .
منبع وويل چي هيئات د طالبانوله مشرانو نه د اسلام آبساد د مذاكراتو او معاهدي په باب توضيح وغوښتله چي په ځواب كي ورته طالبانوڅرگنده كړه چي «دوي له هيچاسره دائتلاف كولوته تيارنه دي ، كه په دي نامه كومي خبرۍشوي اويامعاهده لاسليك شوي، په عمل كي ورته اهميت نه وركوو»

دهمآهنگی عالی شورا دځواكونو دعملياتو په لړ كي :

دلبابى سيمه دنظار شورا له افرادو نه تصفيه شوه

سمنگان - دلرم ٢٧ مه :
ددره صوف دوي استراتيژيكي سيمي دنظارشورا دځواكونو نه تصفيه شوي دي .
دسمنگانوولايت څخه دحزب اسلامي يوي منبع شهادت ته په خپل مخابروي رپوټ كي وويل چي پرون مازديگر دهماهنگي عالي شورا اودنظارشورا دځواكونو ترمينځ ددره صوف ولسوالي ته څيرمه سخت جگړه پيل شوه .
منبع وويل په دغه جگړه كي چي څه دپاسه اته ساعته ئي دوام وكړ دهماهنگي
(٤)مخ

اداره كابل ، ازنظر پاكستان غير قانونى. وازنظر ايران قانونى است

ايران وپاكستان مشتركاً براى استقرار صلح در افغانستان تلاش مى كنند

اسلام آباد - ٢٧ عقرب :
درحاليكه وزارت خارجه ايران خواهان قطع مداخلات خارجي در امور داخلي افغانستان گرديده ، وزارت خارجه پاكستان همزمان باآن خواستار تشكيل يك حكومت فراگيرشامل تمام جناح هاي ذيدخل درمنازعه افغانستان شده است .
يكتن ازسخنگويان وزارت خارجه پاكستان طي گفتگو باخبر نگاران روز گذشته اعلان كرد كه تاهنوز درارابطه به حل بحران افغانستان ،ميان ايران وپاكستان اختلافاتي موجود است ، زيرا پاكستان اداره كابل را غيرقانوني دانسته ومي گويدكه برتمام افغانستان كنترول ندارد .
ص(٤)

دهمآهنگى شورا ځواكونه دروى دوآب ولسوالى ته ديرمختگ په حال كى دى

باميان - دلرم ٢٧ مه :
دهماهنگي عالي شورا ځواكونه دروي دوآب ولسوالي لوري ته ديرمختگ په حال كي دي.
دباميانو له ولايت څخه دوحدت اسلامي دگوند يوخبرځاي شهادت ته وويل ددوو ورځوراهيسي دهماهنگي عالي شورا او د كابل اداري دځواكونو ترمينځ دكتارخاك اوروي دوآب په سيموكي سخته جگړه ادامه لري .
منبع وويل په دغوجگړوكي دكابل اداري ځواكونوته دسراومال زيات زيان وراوښتي اوله هغوي څخه په لسهاو كسه مړه اوژوبل دجگړي په ډگر كي پاته دي.
منبع زياتوي ددغوجگړويه لړكي دهماهنگي عالي شورا ځواكونو بوزيات شمير درنه اوسپكه وسله ولجه كړي اواوس دروي دوآب لوري ته ديرمختگ په حال كي دي .

سازمان عفو بين المللى خواستار توقف راكت باران كابل شد

كابل - ٢٩ عقرب :
سازمان عفو بين بين المللي وكميته جهاني صليب سرخ خواستار قطع حملات راكتي برمردم غيرنظامي دركابل گرديد .
قرارگزارش آژانس هاي خبري ،اين دوسازمان ازتمام جناح هاي درگير خواسته اند كه ازراكت پراگني برمناطق مسكوني خودداري نموده وامنيت افراد غيرنظامي رادركابل تأمين كنند.
دفترسازمان صليب سرخ روزپنجشنبه طي صدور بيانيه اي دركابل نسبت به افزايش قربانيان ناشي ازپرتاب راكت هابراين شهر اظهارنگراني كرده واعلام
ص(٤)

دوكتورطالب سخنگوى شوراى عالى هماهنگى درگفتگوباشهادت :

طرح مستيرى ازنظرشوراى هماهنگى ناقص ومردوداست

پنجاه درصد اعضاى كميسيون محمودمستيرى ،هواداران ربانى اند

سه تن از چهارنماينده زون مركزى اهالى اين منطقه نيستند

موافقه ربانى را مستيرى اعلام داشته درحالى كه خودش چيزى نگفته است

پشاور - ٢٧ عقرب :
ديروز اعضاي شوراي عالي هماهنگي درشهرپشاور تشكيل جلسه دادهوپيرامون طرح محمودمستيري بحث نمودند.
درين جلسه كه قطب الدين «هلال»، همايون جرير، دوكتورطالب، جنرال پاينده محمد وقوماندان ديدار شركت داشتند طرح محمود مستيري را بررسي نموده با درنظرداشت تواقص موجود، آن راغير قابل قبول خواندند. اين طرح شامل شوراي مركب از٢٨ نفر است كه به قول محمود مستيري ، استادرباني موافقه نموده كه قدرت رابه آن تسليم ميدارد .
دوكتورطالب سخنگوي شوراي عالي هماهنگي درگفتگوباشهادت طرح مستيري راناقص ومردود خوانده گفت : درين طرح بيشتر نظرات ومنافع رباني درنظرگرفته شده تاازمردم افغانستان ومخالفين اداره كابل ، اين طرح بدون مشوره مردم وگروهها ، تنظيم شده وحلال مشكل كشورنيست .
دوكتورطالب گفت : فكرمي كنم خبرداشته باشيد كه دوهفته قبل مستيري ازطرف رباني اعلان كرد كه قدرت را ترك مي كند ، دو روزبعد عزيزمراد اظهارداشت استاد رباني ازكرسي قدرت كنارنميرود. دو روز بعدازآن ماباآقاي مستيري جلسه داشتيم وازنظريات شوراي عالي هماهنگي اورا آگاه ساختيم . درحاليكه محمودمستيري باماهم نظربود، اظهارداشت ، تازمانيكه فشاربيشتر براداره كابل واردنگردد ، استادرباني ازقدرت كنارنمي رود . درين اثنا هيئات شوراي عالي هماهنگي اظهارداشت كه مااطلاع داريم كه ممكن استادرباني باايجاد تغير سطحي، شماوسازمان ملل متحدرامثحيث وسيله براي ادامه اقتدارخود استعمال كند محمودمستيري بماگفت كه مااوضاع را دقيق مطالعه مي كنيم وهرگز چنين كاري راكرده نميتواند.
دوكتور طالب افزود مااز مستيري درمورد برنامه آينده وي پرسيديم ،آقاي مستيري اظهارداشت درروش خود تغيري ايجاد مي كنيم وبامشوره
ص(٤)

طرح مستيري رژيم كابل را براريكة قدرت نگهميدارد

مولوى معصوم

حاجى دلجو

طرح مستيرى ادامه حكومت ربانى را تضمين مى كند

پشاور - ٢٧ عقرب :
محمودمستيري فرستاده خاص سازمان پس ازديدارباربابي واعلان اين مطلب كه رباني آماده است قدرت رابه يك كميسيون بيست وهشت عضوي مشتمل برنمايندگان احزاب وواحد هاي اداري افغانستان بسپارد . وي روزجمعه به خبرنگاران گفت : قرار است بتاريخ (٢٧) نوامبر مسئله افغانستان درمجمع عمومي سازمان ملل زيربحث قرارىگيرد ووي يكروز قبل ازآن عازم نيويارك خواهدشد .
براساس گزارش رسيده ازاسلام آباد مستيري گفت كه وي قبل ازعزيمت به نيويارك بارهبران گروه هاواعضاي كميسيون بيست وهشت عضوي ملاقات خواهد كرد .
اين درحاليست كه گروه هاي مخالف رباني هركدام بنوبه خود طرح مستيري رارد كرده اند .
ص(٤)

دستوراخراج مهاجرين ازكشميرصادرشد

مظفرآباد - ٢٧ عقرب :
به مهاجرين افغان مقيم مظفرآباد مركز كشمير آزاد هدايت داده شده تاهرچه زودتر آن شهرواترك كنند .
گزارش مطبوعات پاكستان از قول سيدرشيداحمد گرديزي يك مقام مسئول حكومت آزادكشميرمي نويسد كه گمان برده مي شود افغانهادركارهاي غيرقانوني ملوث باشند، به همين جهت به مهاجرين هدايت شده شهرمظفرآباد راترك نمايند و به هيچ صورت اجازه نخواهند داشت درمظفرآباد ونواحي آن كاروباري داشته باشند .
ص(٤)

دكابل په جنوب ختيزه برخه كي دطالبانو پراخ پرمختگ :

دبت خاك دغرونو پرشاوخوا كى ډيرى سيمى له نظار شورا څخه تصفيه شوى

كابل - دلرم ٢٧ مه :
د طالبانودتحريك ځواكونودكابل په جنوب ختيزه برخه كي ډيري سيمي دكابل داداري ځواكونو نه نيولي اودخاك جبار خواته پرمختگ كوي .
(٤)مخ

بيت اللحم : اطفال فلسطيني درحال بازي "عملكردنظاميان اسرائيلي درمقابل فلسطيني هاي معترض » در شهركرانه غربي ديده ميشوند . قراراست سربازان اسرائيلي دراخيرسال جاري ميلادي از بيت اللحم خارج شوند

دولت دطالبانو دمقابلى پوره توان لرى

ربانى

پرون دكابل اداري مشر رباني دايران خبريال ته ديوي لنډي مركي په ترځ كي وويل دولت دطالبانو دمقابلي پوره توان لري اوتراوسه پوري ئي طالبانوته دسراومال درانده تاوانونه وراړولي دي .
رباني ديوي پوښتني په ځواب كي وويل طالبان په افغانستان كي دپاكستان مستقيمه مداخله ده اوكه پاكستان له خپلي دي لاس وهني اومداخلي څخه لاس په سرنشي نوپه راتلونكي كي به دپاكستان اوافغانستان ترمنځ دوستانه اړيكي نوري هم خرابي شي .
رباني زياته كړه چي دولت تل بهرني مداخلي غندلي او دبوه دايمي اووپند غوښتنه ئي كړي ده .
رباني دخپلي اداري دريځ پواسلامي اوقانوني دريځ وياله اوډده له اداري سره ئي دايران داسلامي جمهوريت دهرډول همكاريو ستاينه وكړه .

ديوى غونډى په ترځ كى :

دتفاهم اوملى يووالى اسلامى شورا دربانى اومستيرى گډه طرحه رد كړه

ميرانشا - دلرم ٢٧ مه :
پرون دلرم دمياشتي په ٢٧ مه نيټه په ميرانشاه كي دتفاهم اوملي يووالي داسلامي شوراپه بلنه غونډه وشوه .
له ميرانشاه څخه يوي باوري منبع شهادت ته وويل چي په غونډه كي دافغانستان دبحران دحل په اړه برخوالوبيربيل پسي ويناوي وكړي .
منبع وويل چي ويناوالو په گډه دافغانستان دستونزي دحل په اړه درباني اومحمودمستيري گډه طرحه ردكړه پريكړه ئي وكړه چي ژرترژره بايد دتولو جهادي ولو يومشترك كميسيون جوړه شي اوبيا ددوو مياشتو په دوران كي بايد يوه لويه شورا چي دتولو تنظيمونو' ښاري پكي برخه ولري راوبلل شي اوبيا بايد دهمدي شورا له خوابرانتقالي حكومت جوړ وروسته ديوه اسلامي حكومت دجوړيدو په برخه كي بايدتصميم ونيول شي .
برخوالو په اخركي له رباني څخه وغوښتل چي قدرت يومشتركي شورا ته وسپاري اوخپله رباني بيله كوم قيد شرط څخه بايد استعفا وركړي .

كارمند وزارت خارجه آلمان از جلال آباد ديدن كرد

پشاور - ٢٦ عقرب :
دوكتور "ملوك" مديربخش هماهنگي امداد و سياستگذاري درقبال كشورهاي جهان سوم در وزارت خارجه آلمان روز گذشته وارد جلال آباد شد واز كورس هاي تعليمي ماين پاكي وپروگرام آن بازديد بعمل آورد.
براساس بيانيه خبري كه روزپنجشنبه درپشاوربه نشررسيد اين مقام آلماني راكه درطول اقامتش درجلال آباد فضل كريم فضل رئيس مؤسسه «اومر» والجنيرسيدآقا رئيس موسسه MCPA - همراهي ميكردند از جريان كار مؤسسه دولتي جرمني نيز بازديد نمود .
دوكتور ملوك باحاجي عبدالقدير والي ننگرهارنيزملاقات نموده طرفين پيرامون مسايل مورد علاقه بحث وتبادل نظركردند .

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

مؤسس: انجنیرحکمتیار

ناشر: ریاست ارشادوفرهنگ

سرمحرر: محمد نذیر«بشارت»

تحت نظر هیئت تحریر

تیلفون: ۲۵۶۳۷۸۹

آدرس پستی: ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پشاور

وقتي کاسه به کوزه میخورد!

کارهایي که مسئولیت طرفها درآغاز مشخص نباشد، عارضی وموقتی است

بسیاردیده شده که مسئولین وکارگذاران یك اداره درمقدمات کارروابط نیك وحاکي ازلطف واحسان داشته اند ولي وقتي کارجریان عادي گرفته است این حسن روابط کم رنگ وحتي متغیرشده وجاي لطف ومحبت رایك ومیخانیکیت، محض اشغال نموده است.

دوتمام شئون زندگي به این قضیه برمیخوریم، ازمشاغل سیاسي وکشوري گرفته تامسائل اقتصادي، اداري، تعلیمي وسایرشعب زندگي ازاین مسئله متأثر میشود. گاهي مي بینیم رئیس جمهورها، صدراعظم ها، وزرا، رؤسا، آمرین، مامورین، کارمندان وهمینطور تجاروصاحبان دیگراصناف ومشاغل دریکدامر باگرمي کاررا آغازمیکنند ولي درجریان، روابط شان خراب میشود. درهمچو موارد بالادستها و آمرین ازپائین دست ها ومادونها شکوه میکنند وآنهارا به تخطي وتخلف متهم میسازند.

مادونها نقاط ضعف مسئول ومرئوس راپیش میکشند وازطرز کارآقاي مسئول اظهاردلتنگي وبیزاري نشان میدهند.

همیشه اینطور نیست که ناهماهنگي بین بالاوپائین صورت بگیرد، افرادیکه ازلحاظ صلاحیت دریك ردیف قرارمیگیرند نیز در معرض این جریان واقع میشوند. یعني درابتدا کار، معامله، وحدت وشراکت راخوب آغازمیکنند ولي دیري نمیگذرد که این حلاوت وتفاهم به اصطلاح تم میکشد وو کاسه به کوزه میخورد، طرفهاي اختلاف که تادیروز محبوب ومقبول هم بودند درغیبت وبدگوئي هم به مسابقه مي نشینند وبه شخصیت وصداقت هم بي اعتمادمیشوند.

تردیدي نیست که عوامل دیگري نیز دربروز این اختلاف نقش دارد ولي در غالب موارد محور اختلاف وناهماهنگي مسئله «تفکیك مسئولیت» میباشد.

عدم توجه، غفلت وبابرخورد هاي عاطفي واحساساتي باعث میشودکه مسئولیت وطرفهاي کار، درآغازوپیوند هرکارپوشیده بماند و برنامه وحدود کارمشخص نشود. رئیس معاون ومادونهایي که دراجراي یك کارمتعهد میشوند، یادونفر وچندنفري که دریك دوکان یاتجارتخانه به کارمشترك دست میزنند درابتدا ازلحاظ مسایل عاطفي حاضر نمیشوند حدود صلاحیت ووظایف هم راروشن نمایند حتي طرح این مسائل را درابتدا شرم میپندارند وآنرا نشانه شك وبي اعتمادي به ساحت مقدس هماهنگي واتحاد تصور میکنند. بعضي تعیین مسئولیت ها رادر ابتداي کاریك امر سهل تصورنموده وبه این فکرمیشوند که باشروع جریان کاراین قضیه خود حل میشود ولي غافل ازاینکه مشکل اصلي سرجاولاینحل مانده است.

اساساً مرحله آغازواول هرکار یك مرحله عاطفي وتصوري میباشد خصوصاً که پاي شراکت وحدت وهماهنگي نیز دربین مطرح باشد. درچنین شرایط طرفهاي شرکت کننده سعي میکنند دربرابرهم اظهار ارادت وحسن نیت نشان بدهند ومرحله آغاز وافتتاح کاررا به الفاظ تشریفاتي برگزاربسازند وحتي تابسیاروقت هانیز کاررا باهمان حالت عاطفي به پیش ببرند.

کارهایي که مسئولیت طرفهادرآن ازبدوامرمشخص ومعلوم نباشد، عارضي وموقتي است. شاید یکي ازطرفهابروي مسایل عاطفي تایك زمان مسئولیتي راانجام بدهد که اساساً وانصافاً باید طرف دیگرآنرا به پیش ببرد ولي واضح است که این حالت بیك میزان نمیتواند ادامه داشته باشد وپیش آمدهاي بسیار ساده میتواند تعادل آنرا ازمیان ببرد، چنانچه نقل شده کدام آدم همسایه خیررسان ونیکي داشت. همسایه نیك براي اینکه درهمسایه داري حسن ارادت نشان دهد برف بام خانه دگررا پاك میکرد. اما یك روز مصروف کاري شدوازانجام آن کارخیر بازماند. صاحب خانه که ازاول به آن کارعادت کرده بود وقتي دیدبرف بامش پاك نشده ناراحت ومنقلب شد وآن کارهمسایه خیررسان را به حساب آغازبدبیني وکم لطفي اوگرفت.

درنظرنداشتن مسئله تفکیك مسئولیت درآغازکار گاهي وقت چنان درجریان کارایجاد ناهماهنگي، شك وتردید میکند که مردم براساس ضرب المثل «دیگ شریکي دردوراهي شکسته است» روي نفس شرکت ووحدت بدبین میشوند، حالانکه درشرکت گناهي نیست. وحدت، شرکت ورفاقت مظهر خیرورحمت ومحل دستاورد ها وبرکات است. معضله روي این ایجاد میشود که طرفها حدود وظایف وصلاحیت هاي شانرا ندانسته ویامعین نساخته اند، اگرمعلوم میساختند امکانات ازبین رفتن تفاهم بسیارکم وضعیف میشد.

اکثرقضاوتها درجامعه ماعاطفي است واین عواطف درآغاز وانجام هرکاري نمودارمیشود. بسیاري کارها وارگانها براساس همین روحیه بوجود مي آید وبسیاري مؤسسات، معاملات وارگانها براساس یك چنین برخوردي هم ازمیان مي رود. بسیاري علل ازبین رفتن اتحاد هاوائتلاف هاي مجاهدین افغان را دال برکم عهدي وپشیماني بعضي رهبران وسیاست مداران میدانند، ولي حقیقت این است که نقصان در «تفکیك مسئولیت» عامل موثر براي واژگوني این ارگانها بوده است.

فراموش نکنیم که بهترین اظهارامتنان وروشن ترین نشانه حسن نیت این است که همه شاملین یك کارویك جریان درآغازمسئولیت هاي هم رامعین نمایند و درفضاي برادري کارخودرا به اصطلاح برابرنمایند.

جماعت اسلامی اوافغانستان

لوستونکي په خبروي چي تیره اوني د جماعت اسلامي پاکستان په تاریخي غونډه کي د حزب اسلامي هیئت دمولوي سرفرازترمشري لاندي گډون کړي و، ددغي غونډي په مناسبت دحزب اسلامي دغه لاندي پیغام دجماعت دمسئولینوپه نامه صادرشوي چي مونږ لمړي دغه پیغام اوبیا وروسته د افغانستان په جهاد کي د جماعت درول پـه هکله معروضات لوستونکو تـه وړاندي کوو.

ترهرڅه دمخه دپاکستان داسلامي تحریك مشرانواوټولو غړیوته له خپلي خواو دافغانستان دمجاهدولس له لوري دپاکستان داسلامي تحریك دنیمي پېړي دېریالیو هلوځلوله امله چي داسلامي نظام دجوړښت لپاره ئې کړي دي، اوکوي ئې، دزړه له کومي مبارکي وایو.

ددغه اسلامي تحریك وړانگي، چي دخداي بخښلي مولانا ابوالاعلي مودودي (ح) په نه ستړي کیدونکو هلوځلوپیل شوي، نه یواځي په دغه لویه وچه کي بلکه په گردي نړي کي خپري شوي دي.

دپاکستان مسلمان ولس اوددغه تحریك غړي دېرښه پخته دي چي دټولو موانعو اوخنډونو باوجودئي بیاهم دخپلویي پناه قربانیو په ذریعه وکولاي شول چي ددغه اسلامي تحریك څخه یولوي منظم «فکري قوت جوړکړي» داسلامي اوددي تحریك دهاغه منظمو هلوځلو نتیجه ده چي نن په سلگونوزره مسلمانان تراوښځې، دنړي دگوت گوت څخه دښارپاکستان په سیوري کي دخپل خداي (ج) درضا اودخپلو مسئولیتونو داداکولو په خاطر راټول شویدي.

محترما!

دافغانستان اسلامي تحریك چي دنړي داسلامي تحریکونو اوپه ځانگړي توگه دپاکستان داسلامي تحریك دمسئولینو دمخلصانه هلوځلو اوتعاون له مخي نژدي ۲۷ کاله پخوادعمل دگرته راووت اوبیایي پرخپل سبېڅلي جهاد سره دروسي کمونیزم اوروسي امپراطوري دغلامي دحلقي څخه دخلاصون اوازادي په لارکي، دخپلوبي دریغه قربانیو په واسطه یونوي تاریخ دنړیوالو ترمخ کیښود.

خومتاسفانه چي دگران هیواد «افغانستان» دنامساعدو حالاتوله کبله زمونږ تحریك ته ددي موقع اوفرصت په لاس ورنغي چي خپلوغریو اوولس ته لکه څنگه چي ورته اړتیا وه هغسي فکري روزنه اوتربیه ورکړي.

که څه هم دافغانستان اسلامي تحریك دغړیو دفکري روزني اوهغوي دتنظیم له پاره دېرکم وخت درلود خوبیائي هم دهمدغه کم وخت نه په گټي اخستوسره دتحریك غړیو دسنگرومؤمنومجاهدینو په صفت، دخپلوبینو اوسرونو په قیمت گردي نړي ته دجهاد اوازادي هماغه لار چي زمونږ داسلاف څخه راپاته وه یوځل بیا په عملي توگه وښودله. دهمدغه بې دریغه قربانیو نتیجه ده چي نن دروسي امپریالیزم امپراطوري رنگه شوي دهغوي دیورغ لاندي دمرکزي اسیا اسلامي هیوادونو دازادي نوي ساه واخسته، دامام بخاري مدرسه بیا پرانستل شوه، دقفقاز اوتاتارستان شار شوي جوماتـونه بیا پرانستل شول اوان شاء الله چي نړي به ددغه ستر امپریالیستي ښـامار ویښو ببوونکوپنجوڅخه ترویره وخته پوري ارامه پاته شي.

همدارازدافغانستان داسلامي تحریك ،دعزم، ثبات او قرباني نتیجه ده چي مشرقي او غـربي ماتي شـه خوروونکي ځواکونه په گونډوشول. شرقي ځواك دسیاسي دگر څخه بهرکړل شو اودغربي استعمار په هکله مونږیوالوته اوپه ځانگړي توگه مسلمانانو ته وښودل چي دوي داسلام سترددښمنان دي اوهیڅکله به داسلام اومسلمانانو دوستان نه شي.

محترمو وروڼو اوخویندوا

مونږ په خپل هیواد «افغانستان» کي داسلامي نظام دجوړښت له پاره راپورته شوي یو، په دي لارکي مو بې دریغه قرباني ورکړي، نژدي دوه ملیونه شهیدان موپه خاي پرېښي. خومتأسفانه چي ترااوسه پوري مودا هدف «داسلامي نظام قیام» نه دي ترلاسه کړي، خو مونږ له خپلو دغو هلوځلوڅخه ستړي نه یو، دهمدي هدف دترلاسه کولو په خاطر موخپلو نه ستړي کیدونکو هلوځلوته دوام ورکړي، او تکل موکړي چي دغه هدف داقامي په خاطریه له هیڅ ډول قرباني څخه دریغ ونکړو.

زمونږدهیواد د اسلامي حکومت دجوړښت په لار کي سترخنډونه داسلام دقسم خوړلو دښمنانو اولندفکره طاغوتي قدرت طلبه عناصرو لخوا راپیدا کړل شوي،غربي استعمار چي دښمني ئي داسلام سره ښرگنده ده، زمونږ دهیواد دستونزو په زیاتوالي کسي پوره اوفعاله ونډه لري اوهدف ئي دادي چي له یوه لوري ددي لاري څخه اسلام، جهاد اومجاهدین نه یواځي داسلامي تحریکونو بلکه داسلامي امت په ذهنونو کي وټکوي، اوله بل پلوه دافغانستان په شهیدپالونکي خاوره کي دخپلي خوښي یوداسي لاس پوڅي نظام جوړکړي چي یواځي او یواځي ددوي دگټوساتندوي وي.

خوغربي استعمار اودهغي بهرنۍ باید دادرك کړي چي افغان مجاهد ولس چي دکوم عزم اوهدف په خاطر راپورته شوي، هیڅکله به هم ددوي ددغه داستعماري سازشونو دغو شیطاني دسایسوته تسلیم نه شي بلکه دخپلوشهیدانو دپاکي لاري په تعقیب به ترهغي دآرام ساه وانخلي ترڅوئي چي دهغوي دارمان په مطابق اسلامي نظام نه وي قایم کړي.

قدرمنو!

دافغانستان داسلامي تحریك په هکله دناکامي تصور به دېرېي ځایه اودحقایقو څخه دبي خبري علامه وي، بلکه برعکس دغه تحریك دنجیب دکمونست رژیم دراتسکوریدو وروسته داستعمار ترلي هغه توطئي چي په کي دمجاهدو قیادتونو قتل عام اودکمونستانو دحکومت بیرته اعاده وه دناکامي سره مخ کړي. مونږ غوښتل داقتدار انتقال دکمونستانو څخه وشي او نـه دهغوي موجودیت په راتلونکي حکومت کي تضمین شي.

مونږ غوښتل چي اقتدار دکمونستانو څخه په زور واخستل شي، اوهغوي دپوره ذلت اورسوائي سره دواکمني څخه محروم شي. مونږ نـه غوښتل دهغه عناصرو وجودپه راتلونکي نظام کي خوندي پاته اوتضمین شي چي لاسونه ئي زمونږ دملت په وینو سره وو. مونږ غوښتل دغه مجرم عناصرودمحاکمي میزته راکش کړو ترڅو ولس ورسره خپله محاسبه وکړي. په همدي خاطرمودکمونست رژیم څخه دپاته عسکري قطعاتو اودخاد دجاسوسي شبکي پر انحلال اصرار کاوه. مونږ نه غوښتل دددښمن دټوټو بنکارشو. که داکارموکولاي نواوس به پرکابل څه چي پرټول هیوادبه زمونږ نظام حاکم واي.

محترما! دروسانو له نظامي ماتي وروسته دافغانستان اسلامي تحریك تـه سمدستي ورانديزوشو چي دکابل واکمني به ورسپاري، خودکمونیستو ځواکونو دموجودیت دتضمین ترڅنگ به په حکومت کي هغوي ته ونده هم ورکوي، دهغوي هیئتونه راغلل، دځینو دوستانو لخوا فشاورونه هم زیات شول ترڅودغه شرایط ومنو اودحکومت واگي ترلاس کړو.

خرابیان موته قبلوله چي دداسي ترطئو ښکارشو. که مونږ هغه وخت دددښمن ددغه سازش ښکار شوي واي اودکابل مانیو اوقصرونوته دکمونستو عسکري قطعاتو ترچترلاندي رسیدلي واي، نوبه دي کي شك نه شته چي دېرزیات مادي امکانات به مولاسته راغلي واي، خوداسلام اصالت اوداسلامي تحریك دفعاله اوږوندي ساتلو لاربه زمونږ نه پاته واي، مونږ به له دي لاري منحرف اوپه نورو لارو به روان واي لکه نن چي تاسي په کابل کي دسازش په نتیجه کي قدرت ته رسول شوي دلي ته گوري. په همدي ترتیب به هم زمونږ روابط اواړیکي داسلامي تحریك دغړو اوداسلام ددوستانو پرځاي داسلام ددښمنانو سره جوړي وي. مونږ به هم داسلام دخدمت پرځاي دداسلام ددښمنانوپه خدمت کي وو.

محترمو وروڼو اوخویندو!

مونږ داسلامي نظام دقایمولو په پاکه لار روان یو، دا لار موخپله کړي او دژوندانه په هیڅ راز مادي نعمتونو اوامتیازونو به ئې له لاسه ورنکړو.

هوا زمونږ ځیني دوستان له خپلي لاري منحرف شوي، له بده مرغه چي دښمن په لار روان دي. هغوي اوس له روسانو، هندوانواونورو اسلام دښمنه قوتونوسره دوستي کوي، خوتاسي باید په دي پوه شي چي افغان ولس، یومجاهدولس دي اوهیڅکله به پخپله خاوره داسلامي نظام دقیام څخه به بل څه راضي نه شي.

قدرمنو وروڼو اوخویندو!

یوځل بیا دابه واگه اعلانوو چي زمونږ اسلامي تحریك په دي حساس پړاوکي په متین اوکلك هوډ داسلامي حکومت دجوړولو په لارروان اوددي سپېڅلي نظام ترجوړښت به ان شاء الله په دي لارکي به پوره عزم، ثبات اواستقامت سره روان وي.

په اخرکي خپله وظیفه گڼوچي دټول پاکستاني ولس اوپه ځانگړي توگه داسلامي تحریك له پلویانو څخه دخپل ځان اوخپل ولس له اړخه، دزړه له کومي په دي خاطر مننه وکړم چي زمونږ ولس ته ئې نه یواځي ځمکي اوکوروونه ورکړل بلکه هغوي ته ئې په خپلو زړونوکي ځاي ورکړ. پاکستان زمونږ دهجرت ځاي نه بلکه دویم کورو. له مونږ سره ئې نه یواځي مادي ملاترکړي بلکه زمونږ دهیواد دآزادي له پاره ئې وینه ورکړي اوزمونږ تاتوبي ئې په خپلوپاکو وینو خړوب کړي.

مونږ په دي باورلرو چي ددواړو مسلمانو ولسونو ترمنځ به دوروروولي اوهمکاري دانه شکیدونکي مزي دتل له پاره مرغلین اوکلك وساتل شي.

والسلام

حزب اسلامي افغانستان

حال دویلو لایق ندی

ښار او کلی

میوند

دښاراوکلي ژوند ډېر توپیرلري، په پیښورکي یوه اصطلاح ده چي څوك له چا سره لرسره وضعه وکړي نوورته وایي ته هم ښاري شوي. دکلي اوښارداستوگنو په خویونو اوعادتونوکي هم فرق وي اوپه فکراوسرچ کي هم. زمایودوست داهم وایي چي دښار خلك مصروف خلك دي اودکلیو وزگار او وزگارته بیکاره هم ویل کیږي. زه دافیصله نشم کولي چي دښار استوگنه بـه ویولم که دکلیو، خوپه فرق بي قایل اوقانع یم، داهم ویل کیږي چي دښارخلك هوښیاروي او دکلیو ساده، دښاریانو اوکلیوالو په جامه اولباس کي هم فرق وي، په خبروکي هم. په راشه درشه کي هم.لنده داچي په هرڅه کي یې توپیروي. په جذباتو کي په انگیرنوکي اوحتي چي په کرو ورو اوخیره کي هم.

داتوپیرپه کابل کي دشلوکالومخکي کابل کي ډېرجوت و، کابل پوهنتون ته به دښاراوولایاتو ددولسموټولگیو فارغان پوهنځي داخل شول، په یوه ټولگي کي به کیناستل یوه استادته به یې سترگي اوغوږونه نیولي وو یوه کتاب ته به یې کتل خوداله لېري معلومېده چي څوك ښاري دي اوڅوك اطرافي. داویش په سیاسي جریانونوهم تپل شوي یامنل شوي و.

مایه ډیروخلقو اوتحلیلونوکي لوستي چي دخلقیانو په ډله کي اطرافي ځوانان په اکثریت کي وو اوپه پرچمیانوکي ښاري،په بله وینا پر پرچمیانوداشرافیت تاپه یاهم الزام لگول کیده خلقیانوهم دادیوه الزام په توگه دپرچمیانوپرضد استعمالاوه اوپرچمیانوپه خلقیانوته دېي کلتوراوحشیانوپیغوروونه ورکول.

پاتي شول نورجریانونه دهغوي ترمنځ دکلي اوښارلیکه نه وه کش شوي اوکه کش شوي هم وه دومره روښانه نه وه هلته دکلي اوښار طبقات پااړخونه نه و رامنځ ته شوي خودښاراوکلي توپیر یاهم امتیاز موجود و.

زمونږ جهاد هم له کلیوپیل شوله اطراف نه پیل شو، دپېښور دتنظیمونو دفترونه هم له اطرافي اوکلیوالو تعلیم یافته یاهم باسواده ځوانانو ډك شول، ددوي خویونه تردیره سره ورته وو لباس طرزفکرحتي سرونه، ږیري اوخیري یې هم سره ورته وي ددغو دفترونومامورین اکثریت نـه چي ټول اطرافي تعلیم یافته وو، (البته دمحاذ اوجبهې ځیني استثناآت پرخپل ځاي)

په پیښور کي دواسکټ، څادر، ږیري، پکول، جالي لرونکي سپیني خولي اوخپو دوران وو، دتنظیمونو دمه مه رغیره په معاشونوسه قانع و قانع لاحه چي په غوره کي هم و، اودهمدغودفترونو دسوونوپه معاش راضي وو.

ورو ورو مؤسسي جوړي شوي تنخواگاني ددزرگونو په حدکي شوي خو دتنظیمونو اطرافي مامورینو ددفتر دسوونو تنخوا اوشکنه څوښه وه موسسوته بي ښه نه کتل دامریکا اوغرب تاپي اوتوروونه بي پري لگول، خداي خبر چاپي داخبره په غوږونو اومغزوکي کېنولي وه خوداسي بي منلي وه لکه چي امریکائیانو ددوي پروړاندي له هغوي سره معامله کړي وي اوسند یې تري اخیستي وي خودایي هیره وه چي داتنظیم بي نوله کومه کوي که موسسي ته یواځي پیسي ورکولي کیږي تنظیم ته له پیسو سره یوځاي وسلي هم ورکولي شي. بس ددوي په زړونو کي بي له موسسو سره دکرکي اونفرت تخم کرلي و اوپښي یې نه گټلي.

دښارخلك چي لراوبررامهاجرشول نودوه کارونه بي وکړل دواړه دهوښیاري کارونـه وو، ځینو پـه موسسوکي ماموریتونه واخیستل اوهغه چي لږ بې حوصلي وو نیغ اسلام آباد ته ولاړل په مباشت دووکي بې جرمني، امریکي اونورواروپایي هیوادته د تلوپاقانوني اوپاهم قاچاقي لار پیداکړه او بیغمه یې واړول، دموسسو والاووهم خارج له زړه نه و وتلي خودچاخبره لږبه حوصله، ماخپله په یوه موسسه کي کارکاوه اوپه هرپنځلسوشلو ورځوکي به مي چي خپل کار ورته سپاره په هرځل ورتلو به په دفترکي دوه دري تنه نوي مقررشوي وو دپخوانیو به مي چي پوښتنه وکړه معلومه به شوه چي هغوي له خیره، دجرمني، استرلیا،امریکا او... ته کډي بارکړي دي. پدي توگه دغـه موسـي بهرته دخپږدتختي پـه توگـه ډېري ښي استعمالیدلي شوي.

ددي ترڅنگ دموسسو ماموریتونه لوکس اودفترونه یې هم پاك ستره اوښه منظم و مامورین یې هم دچاخبره له مودسره برابرو، زمایواندیوال په تنظیم کي څه وخت کارکاوه خوبیا بخت ورسره یاري که ده هوښیاري وکړه په کوم موسسه کي مقررشوتاسي باوروکړي چي څه موده وروسته ماته په مخـه را غې ومي نه پیژانده ډېرښیك، ډېرلوکس اوډېر ښکلي شوي وو خودتنظیموله هغویوځورنیسانو پرته چي لنډ کروزراو نورامتیازات ورته ورسیدل نوربې تول همانغسي شول اوخوار اوزار پاتي شول اواوس چي تنظیمونه هم له پښو لاسو وغورځیدل نوچي گوري هریوبي یاد رومي ډېري ته تاست وي یاهم دپیازوکچالو کراچي تـه، دوي چي هغه وخت څه ته پـه غوره کي وو هغه خراوس بیخي یادولي هم نشي ته پوهیږم په زړه کي به یې گرځي که نه. خوپه خوله یې راوړلو ته زړه نشي تینگولي هغه وخت خوبیا هم یـه و پـه تحریك تحریك، جهاد، جهاد اوسابقه به یې ځان خوښ اوداده ساته اوتربولو زیاته داچي راتلونکي خوبي له یوي مخي خپله بلله، لکه چي قواله بي نقده په جیب کي وي یدي به خوشاله وو چي حساب به کیږي وخت به راشي، هغه چي له جهاداوسختو نه تښتیدلي اومزې چرچي کوي دوطن په آینده کي ورته څه مخ پاتي دي؟ یدي توگه یې نقده دتسبې په بدل کي له لاسه ووتله، راتلـونکي داسـي وبرووونکي هیولاشوه چي اوس ورته څوك سترگي نشي نیولي. دآیندي امیدونه داورداسي سکروټي شوي چي هیڅوك دلاس وروړلو زړه نشي کولي. زمـوږ په جهاد کي دښاري اوکلیوال دفکر، سوچ، جذباتو تدبیر اوهوښیاري کیسـه دلته نه ختمیږي یارژنده صحبت باقي.

داکترعبدالرحیمزي په اتریش کي دشهادت له همکارانو سره په مرکه کي:

مایه اروپا کی خپلومسلمانو خویندوته وویل چی زه ستاسی پرونی ونشم ساتلی، بیابه ستاسی پرونی زه په سرکوم

(په تیرېسي)

داکترصاحب وویل په اروپاکي اوس څلوېښت ملیونه مسلمانان ژوند کوي چي یواځي په اتریش کي (۳۰۰۰۰۰) مسلمانان اوسیږي یواځي دسویزرلیند له سرحدنه ترهنگري پوري (۳۰۰۰۰) مسلمان ماشومان په اسلامي ښوونځیوکي زده کړه کوي.

محترم داکتر عبدالرحیم زي دیوي پوښتني په ځواب کي وویل: زه تعجب کوم، چي په فرانسي کي مسلمانوښځوته دحجاب اجازه نه ورکول کیږي،خوداسلامي هیوادونونمایندگان، سفیران وزیرمختاران په چپه خوله ناست دخپلو کمزوریو احساس کوي، ولي په الوتکوکي نه کیني اوفرانسـه نه ترکوي، احتجاج نه کوي اودفرانسي له واکمنو څخه په کلکه نه غواړي،چي اسلامي ارزښتونوته په درنده سترگه وگوري.

ولي دفرانسي واکمنوته نه وایي، چي تاسي زمونږ څخکي نشي زغملاي نومونږ څنگه تاسوسره ددوستي رابطه ولرو که تورهیڅ نه شي کولاي دفرانسي په ترکولو سره باید دغه دیني غیرت په داگه کړي که له فرانسي څخه په دي نادوره اقدام د اسلامي هیوادو نمایندگانو احتجاج کړي واي اودځوروځو له پاره ئي فرانسـه ترکه کړي وه تاسي به لیدل چي فرانسي په کوم حقیرډول معذرت غوښته اوپه څومره عاجزي سره به ئي نوموړي سفیران بیرته راگرځیدوته دعوتاول. خومتاسفانه چي له دغوخلکوسره داسلام اواسلامي امت غم اوپروانشته.

له بله پلوه تاسي نن په نړي کي دمسلمانانو اجتماعي ستونزو ته وگوري نن مونږ په مصرکي وینو، پرځاي ددي چي اجتماعي پرابلمونوته توجه وشي ځوانان په دي تورونږل کیږي ،چي افراطیان اوبنسټ پال دي.

په الجزایر کي سره له دي چي دپارلمان له پاره اکثره ځوکي مسلمانانو ترلاسه کړي، خوپه یوه شبه کي ئي ټول بندیان اوتعذیبونو لري ئي پري پیل کړي، مونږباید په دا ډول پېښوزیات فکروکړو سطحي ئي ونه گڼو.

واکترعبدالرحیم زي په هیواد کي دروانو حالاتو په باب دیوي پوښتني په ځواب کي وویل: ماډېري هیلي درلودي چي وروسته له څلوېښتو کلونو .زه خپل هغه هیوادته چي شریعت پکي نافذ

اواسلامي حکومت دمجاهدینو په لاس جوړشوي سفرکوم. دالله اکبرغوږترسپوري لاندي به دهیواد په هرگوټ کي سفرکوم ورورگلوي به وي، امنیت به وي، پېرزوینه اوصمیمیت به وي ،مگرمتاسفانه چي هرڅه بدل ښکاره شول انحراف له اسلام اوقرآن نه کیږي.

زماهیله داوه چي دجهاد مسئولین اورهبران گوم چي په جهاد کي بریالي شول دورورگلوي په فضا کي به سره کیني په لمړي سرکي دکنترول اداره جوړدي دځوکیو په خیال په زړه کي نه راولي یوه اسلامي اداره به جوړوي په راس کي به ئي په توافق سره امین شخص تاکي اوبیا به دهغي دکارمراقبت اوڅارنه به کوي دخدمت اواسلامي ارزښتونو دتقویي په صورت کي به هغه دتقدیر وړ اودتخلف په صورت کي به عزل اوپرځاي به یې بل متدین او امین شخص تاکل شوي واي. مگر متاسفانه، چي داسي ونشول.

نصیبه څه درسره وکړم ؟!
هغه دجوګی دفال خبره !!

م ،ع ، معصوم

څواوني وړاندي میوند صاحب په خپل کالم کي دهند جوګي په کابل کي په نوم یومطلب درلود چي څه وړ دهند یو مشهورجوګي اوفالبین په کابل کي داستادرباني دربارته حاضرشوي اودهغه دپاچاهي پرمستقبل یې ورته څه ویلي، خودغه مطلب داوج په تکي کي تیمګري دي اواصلي ماخذ چي یوه فلمي مجله ده حواله ورکړاي شوي ده چي نوریه ئې په راتلونکي ګڼه کي دوام لري ، میوند صاحب هم وعده کړي چي کله ئې مجله ترګوتو کړه اومطلب ئې پکي ولوست دشهادت مینه والوته به ئې وایي که څه هم حال دویلولایق نه وي اووازوي .

کاشکي دغه فلمي رساله زوترزوره خپره شي او دهندي جوګي پیشبیني اوفال څرګندشي، شرقي تولني په دغو معاملو زیات حساب کوي چي زموږ هیواد او اولس هم په دي کي شریک دي، موږ اوهام پرست یو، په فال اوجوګه باورلرو اودخپل برخلیک په اړه که دهندوخبره وي هم غوږورته نیسو .

موږته داستادرباني مسئله هم مبهمه ده ،ځکه هغه اوس بیا اولس په یوه ستومانوونکي انتظار کښېنولي، وعده ئې ورکړي چي واک به پریږدي . که په هغه هندي فلمي رساله کي دهندو جوګي مشوره داسي راووزي چي استاد رباني ته ني داقتدار دپرېښودو ویلي وي نومسئله حل ده ، داځل به هغه خامخا اقتدار پریږدي ، اوکه مشوره څه بل شان وي بیا خو دچاباورنه شي چي داځل به هم هغه دي ته حاضرشي .

موږدانه وایوچي استاد رباني خداي(ج) مه کړه دومره جفا کاردي چي دتول اولس په قرباني ځان وته خوښاوه اویه داسي کرسي نښتي چي یوازي نوم ئې دي، نور هیڅ نشته . خودیوه هندوجوګي په خوله به له هرڅه تیرشي. خو دایوه فطري مسئله ده دچاچي له یوشي سره مینه وي په ګرانه ئې له لاسه ورکولو ته چمتوکیږي .

اوس خبره داده چي داولس انتظار به څه وخت پاي ته رسیږي یعني څه وخت به نوموږي مجله دمیوند صیب لاسته ورځي چي دکابل دتاج اوتخت دسرنوشت په باب پکي نوي خبري ووینې .

موږله میوند صاحب نه هم یوه وعده اخلو فلمي رساله خوطبعاً دفلمي رنګینې تري درازونواو رمزونو خپرونه ده چي دیري رنګیني به لري خوښاغلي میوند دي لومړي په خپله وعده وفا وکړي له استاد رباني سره دجوګي دملاقات اومرکي نه ویلو حال دي دشهادت مینه والوته ووایي وریسي دي دسنجي دت دزندان اوخلاصون اونوروفلمي خبرو په رازونو بوخت شي .

ځکه چي په لومړي کي دیوه اولس دسرنوشت مسئله ده ، دیوي ستوزي او ربړي دحل رازدي . کیداي شي جوګي استاد رباني ته ویلي وي چي نوریښي سپکوه نوردورغوي کرښي دخطر ګواښ ورکوي اوکه داسي نه وي خبره بالکل ددي پرخلاف وي هم معلومه خبره وي ،یعني استاد ته به یې خپل استاد «جوګي» داصرار اوتینګاروېلي وي ، ښه باغوته به ئې ورته ښه کړي وي، کیداي شي ورته ویلي یې وي چي یو لکي لرونکي ستوري

به پیداشي اوبیا به ستادمخالفینویه مینځ کي هغه اودغه پیښي رامنځ ته شي ،ټول به ورته تسلیم شي اوبیا به ستاسکه چلیږي ،نه یوازي له خیرخاني ترجبل السراجه بلکي له آموتو ترسپین غره ، او له هندي جوګي نه خوراهم لیري نه ده چي استاد رباني ته ئې اسلام قلعي نه ترامرتسره دواکمني خوبونه لیدلي وي، که سري داستادمینه اوخلوص له هندوانوسره وګوري له ورایه پري دګاوندیو ګومان کوي، ددوي په روابطوکي دګاونډیتوب یوډول احساس کیداي شي ،کټ مټ لکه دکارمل اونجیب په وخت کي دروس اوافغان روابط ، هغه وخت په واکمنو دروس غلبه وه اوداودومره دوخت حاکم جریان متلي وه چي دخپلو ماشوماتو نومونه ئې وورسره روسي کړل اوس هم

کیداي شي داستاد دجاسوسي دستګاه «رام» نوم په هندي مینه اواحساس له « واد» نه «رام» ته اوښتي وي، که دتوریځکیرويره اوترهه نه واي شاید دلته هم تریله لاندي نوري هم زیاتي اوبه تیري شوي واي.په هرصورت یوه اندیښنه لا اوس هم پله داده چي که دمجلي په دي ګڼه کي هم دکابل دتاج اوتخت په باب دریاني صاحب اوجوګي» خبري بې له دي چي بونتیجي ته ورسیږي تیمګري پاتي وي او دبلي ګڼي وعده ورکړاي شوي وي بیا به څه کیږي !!؟

کاشکي داسي نه وي اونور دشهادت دلوستونکو انتظار اوږد نه شي .

هوا رښتیا دغه جوګي دیوي فلمي مجلي سره تراولري نوکه فرضاً هغه استاد ته په دنیا کي دپله ایښودبلنه ورکړي وي په دي کي له جوګي سره شاید زیات نورهم هم نظره وي .

که دکابل دمشرانو اوسني وضعي ته سري ښه ځیرشي چي دپروان په څوکلیو اوله جبل السراجه تریل محمودخانه دیوي محدودي واکمنۍ دي خواکښونه ئې د درست ،ځاتستان دقانونتي، اوواقعي مشرانو په خبردي نوددوي په تمثیل او کمال به بالکل اعتراف وکړي .

پردي سربیره دسیاستمدار اوځرمنځ دیر توپیرهم نشته ددوارو کسب دنورو په مشغولتیا کي دخپلو ګټولټول دي. دواړه ئې دحقیقي ژوندانه «تقلید» اوتمثیل کوي ممثلین هم هندا یتکاران لري چي دهغوي په اشاره ناځي اوځیني سیاستمداران هم ، هغوي هم دنوروواشارو ته ګوري او په هیڅ توګه هم دخپلي ارادي تابع نه دي. په هرصورت اوس به دمیوند دکالم په انتظار ووچي څه وخت له ابهامونو پردي پورته کړي اودغه غوټه خلاصیږي .

##

دانګلستان ولیعهد شهزاده چارلس وایي :

غرب تشدد ته داسلام دنوم په ورکولو غلطي کړي

دشرعی قوانینوپه باب زموږ تصورات په بی انصافی ولاړدی

له بده مرغه موږ(اروپایان) اسلام صرف په لبنان کي دخانه جنګي اوبودیل دوژلو په تناظر کي وینو اوفکر کوو چي اسلام دانتهاپسندي دین دي خردازموږ تاپوهي اوغلطي ده . زمایه خیال داپوستجیده غلطي ده که په انګلستان کي قتل ، په زوره زنا، پرماشومانو ظلم ، قتل اودنشوعادت باندي غوروکړو نوانتهاپسندي دلته هم له ورایه په نظرراځي ،لیکن په یوه تولنه کي که دغه شیان بنیاد اومعیاروګرځولي شي نوبیا صحیح تجزیه لاس ته نشي راتلي، دمثال په توګه ددي هیواد اکثر خلک وایي چي په اسلامي نړي کي دشریعت قوانین ظالمانه ،بې رحمانه اوپرناانصافي مبني دي زموږ اخباروته هم په خاص دول همداسي تصورات وراندي کوي اوخلک ګمراه کوي، لیکن اصل حقیقت بالکل برعکس دي، زمایه خیال په اسلام کي دلاس پرېکولو آخري اقدام دیرکم پیښیږي اوزیاته توجه اسلام پرهغوبنیادي اصولو باندي کولي شي چي په قرآنکریم کي یري زیات تاکید شویدي . د مثال په توګه عدل ، احسان، صله رحمي اومساوات دیادوني وردي، موږته پکار دي چي دفیصلي کولواو یادراي له قائمولو نه مخکي پردغواصولو نظرواچوو، اسلام ښځوارلس سوه کاله مخکي ښځي ته پرجایداد دملکیت حق،وراثت کاراوبار اوطلاق په صورت کي دمادي اومالي حقوقو ضمانت ورکړیدي، خوکه په ځینواسلامي هیوادونو کي دښځوله پاره داحقوق نشته نوددي دامطلب نه دي چي په اسلام کي داحقوق نشته . په انګلستان کي داحقوق زمادآنې اودهغې دکورني له پاره هم نه وو، بینظیربوتو اوخالده ضیاپه یوي خاصي اسلامي تولنه کي صدر اعظماني جوړشوي لیکن په انګلستان کي لمړني صدراعظمه دهمغي وخت پیداواره وه .

موږباید دافکرپریږدوچي انتها پسندي دمسلمانانو حقیقي روح دي، اصل خبره داده چي پرانتهاپسندي یوازي داسلام اجاري داري نده بلکي په نورو مذهبونو

لکه عیسویت کي هم موجودي، دمسلمانانو اکثریت ددین په تولو اصولوعمل کوي لیکن دژوندانه په عام سیاسي رویه کي له حدنه زیات معتدل دي، هغوي دامت وسط اسلامي تصور قائل اودرمیانه لاره غوره کوي، پخپله داسلام پیغمبرمحمدصلی الله علیه وسلم هم له انتهاپسندي نه نفرت کاو، که موږ غواړو چي اسلام په صحیح معنا وپیژنونوبیا پکاردي چي دعام مسلمانانو اکثریت ته وګورو نه دمحدود اقلیت انتها پرستانه اوتشددپرستانه عملونوته چي اسلام پخپله دهغه مذمت کوي، یوطرف ته خویه غربي دنیا کي داسلام په خلاف زیات غلط فهمیاني موجوي دي خوبل طرف ته‌یېرزیات لاعلمي اوبې خبري هم شته ، حال داچي زموږ پراوسني تهذیب اوثقافت داسلام ډیرلوي احسان دي خوزموږ له تعصب نه دك تاریخي روش هرڅه زموږله سترګونه لري ساتلي دي .

